تول هغه څه چې د کوید ۱۹ په هکله تاسې اړتیا لرئ چې پرې پوه شئ:

# واکسین د دې لپاره شتون لري چې ستاسې، پر تاسې د ګرانو او تر څنګ شته خلکو ساتنه وکړي.

## واقعیتونه په څرک کې:



د کوید ۱۹ واکسینو د خوندیوالي په هکله خپل کلک معیارونه پوره کړل.



واکسین د ژوندانه ژغورنه کوي.



داسې شواهد نه شته چې د کوید ۱۹ واکسین د حمل (ماشوم لرلو) وړتیا تر اغیزې لاندې راولي



واکسین ستاسې د ګردې ټولنې ساتنه کوي.



د کوید ۱۹ واکسینو د لوړې کچې نړیوال حمایت تر شا لاره.



د کوید ۱۹ د واکسینو د ترکیب په لیست کې انساني یا حیواني اجزاء، او یا هم هګۍ نه شته.

## ټول هغه څه چې د کوید ۱۹ په هکله تاسې اړتیا لرئ چې پرې پوه شئ:

### په یاد ولرئ:

- د کره او معتبرو منابعو څخه د لاسته راغلو واقعیتونو څخه استفاده وکړئ.
- له دغه منابعو څخه یوه ذخیره تشکیل کړئ: د ملي روغتیا د خدمتونو، د روغتیا نړیوالې اداري (ډبلیو ایچ او) او د برتاني د سره صلیب د اداري له ویبپاڼو څخه.
- وخت ورکړئ چې د کوید ۱۹ د واکسینو په هکله لوست وکړئ او پرې پوه شئ. ستاسې روغتیا هغه څه دي چې د لوړې کچې پام او توجه غواړي.
- که په ټولنیزو رسنیو یا د واتساپ ګروپونو په خبرو اترو کې داسې څه لولئ چې تاسې ترې مطمئن نه وئ، نو یو څه صبر وکړئ او په خپله یې په هکله څیړنه وکړئ.
- زموږ کړنې پر نورو اغیزه لري، له ډیرو لارو.



# ټول هغه څه چې د کوید ۱۹ په هکله تاسې اړتیا لرئ چې پرې پوه شئ:

## ژوره کتنه.

### د کوید ۱۹ د واکسینو انکشاف:

- د واکسین جوړونې هیڅ مرحله هم نه ده پریښوول شوې.
- درې څیزونه د واکسینو جوړونه ګړندۍ کوي: ډیره پانګه، ډیر منابع او خورا زیات څیړندویان. د کوید ۱۹ د واکسینو جوړونې عملیې ادا درې واړه لرل.
- هیڅ بل واکسین ادا ډول نړیوال ملاتړ تر شا نه درلود.
- نړۍ یوازې یو اولیت درلود – دا چې د دغه وژونکي ویروس د خوریدو مخنیوی وکړي - نو لدې کبله په ټوله نړۍ کې د حکومتونو لخوا ډیر مالي تمویل موجود شو.

### واکسین:

- په برتانیه او نوره نړۍ کې هر کال تر ۳ میلیونه کسانو پورې د واکسینو په وسیله ژغورل کیږي.
- د واکسینو له وجې داسې ناروغتیاوې لکه سمالپاکس (د سرخکانو په ډول یوه وژونکې ناروغتیا) پولیو او تیتانوس نورې نه شته یا خورا په ندرت لیدل کیږي.
- که موږ واکسین وکړو، موږ همدا شان د هغه چا ساتنه کوو چې له موږ څخه ډیر زیان منونکې وي، هغه کسان چې نشي کولی هغوی خپله واکسین ترلاسه کړي (د بیلګې په ډول کوم کسان چې ناروغتیا لري او یا یې بدني دفاعی سیستم کمزوری وي).

### د کوید ۱۹ واکسین څرنګه کار کوي:

- واکسین داسې کار کوي چې ستاسې د بدن دفاعی (امیون) سیستم ته اشاره ورکوي چې هغه انتي باډۍ جوړه کړي چې د دغه ویروس سره مقابله وکړي.
- دا واکسین ستاسې ”ډی ان اې“ نه بدلوي.
- داسې شواهد نه شته چې د حمل پر وړتیا اغیزه وکړي.

### د کوید ۱۹ د واکسینو ترکیبي توکي:

- دغه واکسین هیڅ انساني ترکیبات، حیواني ترکیبات یا د هګۍ اجزاء نلري.

### د کووید ۱۹ د واکسینو خوندیوالی:

- ممکنه نه وه چې واکسین د میلیونونو کسانو لپاره تأیید شوي وی که د هغو د خوندیتوب (بې خطرۍ)، کیفیت یا مؤثریت په هکله شک موجود وی.
- دغه د لوړې کچې معیارونه د ”روغتیايي تولیداتو د تنظیم د ادارې“ لخوا ایښودل کیږي، کومه اداره چې اطمئنان ورکوي چې هغه درمل چې په برتانیه کې کاریږي خوندي وي.
- د آکسفورډ/استرازنکا واکسین د ۱۱۰۰۰ څخه په ډیرو کسانو ازمویل شویدي. د فایزر/بایونټک واکسین د ۴۳۵۰۰ څخه په ډیرو کسانو ازمویل شویدي.

# ټول هغه څه چې د کوید ۱۹ په هکله تاسې اړتیا لرئ چې پرې پوه شئ:

## د دې لپاره چې له خپل ځان او له هغه کسانو سره مرسته وکړئ چې پر تاسې ګران دي، د کوید ۱۹ د واکسینو په هکله له پوهاوي وروسته پریکړه وکړئ.

د دې لپاره چې له خپل ځان او له هغه کسانو سره مرسته وکړئ چې پر تاسې ګران دي، د کوید ۱۹. د واکسینو په هکله له پوهاوي وروسته پریکړه وکړئ
د کووید ۱۹ د واکسینو په هکله د ملی روغتیا د خدمتونو د اعتبار وړ نوو معلوماتو لپاره او دا چې د واکسینو په مرکز کې څه پیښیري د کارډیف او ویلز د روغتیایي بورد څخه په لاندې آدرس لیدنه وکړئ:
cavuhb.nhs.wales/covid-19/cavuhb-covid-19-mass-vaccination-programme/

په ۳۵ ژبو کې د واکسینو په هکله د ملی روغتیا د خدمتونو د اعتبار وړ نوو معلوماتو، د واکسین د ترکیبي توکو، خوندیتوب او نورو اړوند پوښتنو لپاره:

د ویلز عامه روغتیا ویبپاڼه په دغه آدرس وګورئ: phw.nhs.wales/covid-19-vaccination

په دغه ویبپاڼه کې په خپله ژبه د معلوماتو د لوستلو یا اوریدلو لپاره په ویبپاڼه کې د "ریسایت مي" نښان کلک کړئ

Recite me

که تاسې د موجوده روغتیايي حالت یا ناروغتیا په هکله کومه ځانګړي پوښتنه لرئ، او نور معلومات غواړئ د خپل عمومي ډاکتر (جي پي) سره اړیکه ونیسئ.

06/2021

Test • Trace • Protect
Profi • Olrhain • Diogelu

Butetown Community Centre

C3SC Cardiff Third Sector Council Cyngor Trydydd Sector Caerdydd

South Riverside Community Development Centre

TAFF

Welsh Refugee Council Cyngor Ffoaduriaid Cymru